د عامې روغتیا وزارت

# روغتیا اوونیزه

## پرلیــکه خپـرونه

لومړۍ پړاو - شپږ ویشتمه ګڼه

۱۴۴۷-۰۹-۰۲

- د اکمال تخصص برنامې څخه د نږدې 500 تنو متخصصو ډاکټرانو فارغېدل!
- د هېواد د درملو او طبي وسایلو واردوونکو اتحادیې مسئولینو سره ناسته!
- هند هېواد له لوري د 31 کارتنه تې ډي واکسینو مرسته!
- دایکندي ولایت کې د یو عمومي روغتون د رغنیزو چارو پیل!
- یو شمېر ولایتونو کې د خصوصي روغتیایي سکتور څخه د نظارتونو ترسره کېدل!




**هند هېواد د خپلو بشري مرستو او روغتیايي همکاریو پر دوام 131 کارټنه ټي ډي(Td)واکسین د افغانستان عامې روغتیا وزارت ته وسپارل**

یاد واکسین د ټي ډي (ډیفتري او کزاز) له ګډ ترکیب څخه جوړ شوی، چې هر ویال یې 10 دوزه لري. د واکسین د تولید نېټه 2025/8 او د انقضا نېټه یې 2028/7 ده.
همدارنګه، په هر کارټن کې 768 دوزه واکسین شامل دي، چې د وقایوي واکسیناسیون پیاوړتیا او د روغتیايي خدمتونو ښه والي په موخه به وکارول شي.

د یادونې وړ ده، چې هند هېواد څو اوونۍ وړاندې هم نږدې 9.5 ټنه د سرطان ضد درملو مرسته کړې وه او د عامې روغتیا وزارت ته یې سپارلې وه.

**کشور هند در ادامه کمک‌های بشردوستانه و همکاری های صحی خود، 131 کارتن واکسین (Td) را به وزارت صحت‌عامه افغانستان تسلیم داد**

این واکسین که از ترکیب مشترک Td (دیفتری و کزاز) ساخته شده است، هر ویال آن دارای 10 دوز می‌باشد. تاریخ تولید این واکسین 2025/8 و تاریخ انقضای آن 2028/7 اعلام شده است. همچنان در هر کارتن 768 دوز واکسین موجود می‌باشد.
این کمک به‌منظور تقویت برنامه واکسیناسیون وقایوی و بهبود خدمات صحی مورد استفاده قرار خواهد گرفت.

قابل یادآوری است که، دولت هند چند هفته قبل نیز نزدیک به 9.5 تُن ادویه های ضد سرطان را به‌عنوان کمک به وزارت صحت‌عامه افغانستان تسلیم کرده بود.

**India Donates 131 Boxes of TD Vaccine to Afghanistan's Ministry of Public Health**

The vaccine is a combined formulation of TD (Tetanus and Diphtheria), with each vial containing 10 doses. The production date of the vaccine is August 2025, and its expiration date is July 2028. Additionally, each box contains 768 doses, which will be used to strengthen preventive vaccination and improve healthcare services.

Notably, India had also donated nearly 9.5 tons of cancer medications to the Ministry of Public Health a few weeks ago.



**یونیسیف اداري د ننګرهار سیمه ییز روغتون نسايي ولادي څانګې ته د 300 زره افغانیو په ارزښت دوه د عملیات میزونه ورکړل**

یاد میزونه د عامې روغتیا رئیس، مولوي امین الله شریف په شتون کې د سیمه ییز روغتون مسؤلینو ته وسپارل شول.

د ننګرهار عامې روغتیا رئیس، د یونیسیف اداري له دوامداره همکاریو مننه وکړه او د نورو همکاریو هیله یې څرګنده کړه.

د یادونې وړ ده، چې په یاده څانګه کې په ورځني ډول 25 عملیاتونه ترسره کېږي او د دغو نویو عملیات مېزونو په برابرېدو سره به د ناروغانو د خدمتونو کیفیت لا ښه، د عملیاتو بهیر به چټک او د مور او ماشوم د روغتیایي خدمتونو اسانتیاوې به نورې هم پراخې شي.

**به ارزش 300 هزار افغانی، اداره یونیسیف دو میز عملیات به بخش نسایی و ولادی شفاخانه حوزوی ننگرهار کمک کرد**

این میزها در حضور مولوی امین‌الله شریف رئیس صحت عامه ننگرهار به مسوولان شفاخانه حوزوی سپرده شد.

رئیس صحت عامه ننگرهار از همکاری‌های دوامدار اداره یونیسیف قدردانی نموده و ابراز امیدواری کرد که این همکاری‌ها در آینده نیز ادامه یابد.

قابل یادآوری است، که در این بخش به طور روزانه 25 عملیات انجام می‌شود و با فراهم‌شدن این میزهای جدید عملیات، کیفیت خدمات به بیماران بهبود یافته، روند انجام عملیات تسریع گردیده و سهولت‌های بیشتری در ارائه خدمات صحی برای مادران و کودکان فراهم خواهد شد.

**UNICEF has donated two operating tables worth 300,000 Afghanis to the obstetrics and gynecology ward of Nangarhar Regional Hospital.**

The equipment was officially handed over to the hospital authorities in the presence of Mawlawi Aminullah Sharif, Director of Public Health for Nangarhar.

The Nangarhar Director of Public Health expressed his appreciation for UNICEF's continued support and conveyed his hope for further cooperation in the future.

It is noteworthy that approximately 25 surgical procedures are performed daily in this ward. With the provision of these new operating tables, the quality of patient care is expected to improve, the surgical process will become more efficient, and maternal and child health services will be further strengthened and expanded.





## د ناروغانو د ښې درملنې په موخه د غزني عامې روغتیا ریاست ته 33 قلمه بېلابېل درمل وسپارل شول

،یاد درمل چې مجموعي قیمت یې (9625) ډالر کېږي
د PU-AMI مؤسسې ولایتي دفتر له لوري د غزني عامې روغتیا ریاست ته وسپارل شول.

دغه درمل د غزني د عامې روغتیا رئیس، ډاکټر رسول خان نظري د پرله پسې هڅو، تعقیب او اغېزمنې همغږۍ پایله کې ترلاسه او د غزني سیمه ییز روغتون ته ولېږدول شول، چې د ناروغانو د روغتیایي اړتیاوو پوره کولو، پر وخت رسېدنې او معیاري درملنې برخه کې به اغېزمن رول ولوبوي.

## 33 قلم ادویه مختلف به منظور بهبود روند تداوی بیماران، به ریاست صحت عامه ولایت غزنی سپرده شد

این ادویه که قیمت مجموعی آن به (9625) دالر می‌رسد، از سوی دفتر ولایتی مؤسسه PU-AMI به ریاست صحت عامه غزنی تسلیم داده شد.

این ادویه در نتیجه تلاش‌های دوامدار، پیگیری و هماهنگی مؤثر داکتر رسول‌خان نظری رئیس صحت عامه غزنی، به دست آمده و به شفاخانه حوزوی غزنی انتقال گردید تا در راستای تأمین نیازهای صحی بیماران، ارائه خدمات به‌موقع و تداوی معیاری نقش مؤثری ایفا خواهد کرد.

**A total of 33 types of essential medicines have been handed over to the Ghazni Public Health Directorate to enhance the quality of healthcare services for patients.**

The medicines, valued at $9,625, were donated by the provincial office of PU-AMI and officially delivered to the Directorate.

These supplies were secured as a result of the continuous efforts, close follow-up, and effective coordination of the Director of the Ghazni Public Health Directorate, Dr. Rasool Khan Nazari. The medicines have since been transferred to Ghazni Regional Hospital, where they are expected to play a significant role in meeting patients' medical needs, ensuring timely access to treatment, and improving the standard of care provided.




**د ۱.۱.۱ د عامې روغتیا وزارت د روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو مرستیال، ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني د 1405 هـ ش کال حجاجو ته د روغتیایي خدماتو وړاندې کولو بهیر کې د اسانتیاوو په موخه د ولایتونو د عامې روغتیا ریاستونو له مسؤلینو سره آنلاین ناسته ترسره کړه**

په دې ناسته کې ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني وویل، د سعودي عربستان له لوري ټاکل شویو مقرراتو ته باید په جدي توګه پاملرنه وشي او ټینګار یې وکړ، چې په هر ولایت کې باید ځانګړی ځای د حجاجو د منظمو روغتیایي معایناتو لپاره وټاکل شي.

همدارنګه هغه زیاته کړه، د معایناتو ټولې مرحلې باید په منظم ډول او د ټاکل شویو طرزالعملونو سره سم ترسره شي؛ تر څو حجاج له سفر مخکې د ښه روغتیایي وضعیت څخه برخمن وي او د هغوی د اعزام پروسه پرته له کومې ستونزې پر مخ ولاړه شي

بل لور ولایتي مسؤلینو ډاډ ورکړ، چې ټول اصول، مقررات او ټاکل شوي طرزالعملونه به په بشپړ ډول عملي کړي او د حجاجو لپاره به د معیاري او منظمو روغتیایي خدماتو وړاندې کولو په موخه اړین اقدامات ترسره کړي.

**محترم مولوی عبدالولی حقانی، معین عرضه خدمات صحی وزارت صحت عامه، نشستی آنلاین را با مسوولان ولایتی ریاست‌های صحت‌عامه به منظور ایجاد سهولت در ارائه خدمات صحی برای حجاج سال 1405 برگزار کرد**

در این نشست، محترم مولوی عبدالولی حقانی گفت که مقررات تعیین‌شده از سوی عربستان سعودی باید به‌گونهٔ جدی مورد توجه قرار گیرد و تأکید نمود که در هر ولایت مکان مشخص برای انجام معاینات منظم صحی حجاج تعیین شود.

همچنان، وی افزود که تمام مراحل معاینات باید به‌صورت منظم و مطابق طرزالعمل‌های تعیین‌شده انجام شود، تا حجاج پیش از سفر از وضعیت صحی مناسب برخوردار بوده و روند اعزام آنان بدون مشکل صورت گیرد.

از سوی‌هم، مسوولان ولایتی اطمینان دادند که تمام اصول، مقررات و طرزالعمل‌های تعیین‌شده را به‌گونهٔ کامل عملی نموده ،و در راستای ارائه خدمات صحی معیاری و منظم برای حجاج اقدامات لازم را روی‌دست خواهند گرفت.

**Kabul – Mawlawi Abdul Wali Haqqani, Deputy Minister for Health Services of the Ministry of Public Health, held an online meeting with provincial public health directors to facilitate the provision of healthcare services for pilgrims in the year 1405.**

During the meeting, Mawlawi Haqqani stated that the regulations set by the Saudi Arabia must be strictly observed. He emphasized that a designated center should be identified in each province to conduct systematic medical examinations for pilgrims.

He further noted that all examination procedures must be carried out in an organized manner and in accordance with the approved guidelines, ensuring that pilgrims are in suitable health condition prior to travel and that their deployment process proceeds smoothly and without complications.

Meanwhile, provincial officials assured that all established principles, regulations, and guidelines will be fully implemented, and that necessary measures will be taken to provide standardized and well-organized healthcare services for pilgrims.



## کونړ ولایت کې د خصوصي روغتیایي سکتور او خوراکي توکو له پلورنځیو څخه نظارت ترسره شو

دغه نظارت د یاد ولایت په مرکز اسعد اباد ښار کې د عامې روغتیا ریاست د څارنې او پلټنې مسؤلینو له لوري ترسره شو، چې پایله کې يې 387 کیلوګرامه درمل او 495 کیلوګرامه له نېټې تېر او بې کیفیته خوراکي توکي راټول او د له منځه وړلو په موخه مرکزي ګدام ته ولېږدول شول.

## از سکتور خصوصی صحی و فروشگاه‌های مواد خوراکی در ولایت کنر نظارت صورت گرفت

این نظارت از سوی مسوولان نظارت و بررسی ریاست صحت عامه در مرکز این ولایت صورت گرفت. در نتیجه آن، 387 کیلوگرام ادویه و 495 کیلوگرام مواد خوراکی تاریخ‌گذشته و بی کیفیت جمع‌آوری و به خاطر از بین بردن به گدام مرکزی انتقال داده شد.

## Private Health Sector and Food Outlets Inspected in Kunar Province

The monitoring was conducted by officials from the Department of Inspection and Monitoring of the Public Health Directorate in the provincial center. As a result, 387 kilograms of expired or substandard medicines and 495 kilograms of expired or low-quality food items were collected and destroyed in the presence of the relevant authorities.











## د دایکندي ولایت د پاتو ولسوالۍ د بند مزار په سیمه کې د یو باب عمومي روغتون جوړېدو د بنسټ ډبره کېښودل شوه

په همدې موخه جوړو شویو مراسمو کې د ولایت د مقام مرستیال، د عامې روغتیا رئیس، د بېلابېلو ادارو مسؤلینو، د پاتو ولسوال، علماوو، مخورو او د سیمې اوسېدونکو ګډون کړی و.

د دایکندي ولایت د عامې روغتیا رئیس، ډاکټر جواد حکیمي وویل:( د غرنیو او لرو پرتو سیمو د روغتیایي اړتیاوو په پام کې نیولو سره دا روغتون به د یو معیاري کمپلکس په بڼه له ټولو اسانتیاوو سره جوړ شي).

همدارنګه، د دې ولایت د مقام مرستیال مولوي احسان‌الله رحمتیار د خلکو پر وړاندې د صادقانه خدمت او مسؤلیت پذیرۍ پر ټینګار سره ډاډ ورکړ، چې دا پروژه به په ټاکلي وخت بشپړه شي او د ولایت مقام به یې په ټولو پړاوونو کې همکاري کوي.

د یادونې وړ ده، چې یاده پروژه د عامې روغتیا وزارت په همغږۍ د UNHCR دفتر په مالي ملاتړ د 773٬250 امریکایي ډالرو په جموعي لګښت پلي کېږي.

## سنگ‌تهداب یک باب شفاخانه عمومی در ساحه بند مزار ولسوالی پاتو ولایت دایکندی گذاشته شد

در این مراسم معاون مقام ولایت، رئیس صحت‌عامه، رئیسان ادارات مختلف، ولسوال پاتو، علما، متنفذین و باشنده گان محل اشتراک داشتند.

داکترجواد حکیمی رئیس صحت‌عامه ولایت دایکندی در مراسمی که به این مناسبت برگزار شده بود گفت: نظربه نیازمندی های صحی در مناطق کوهستانی و صعب‌العبور، این شفاخانه به گونه یک کمپلکس معیاری با تمام ملحقات ضروری آن اعمار می‌گردد.

همچنان، مولوی احسان‌الله رحمتیار معاون مقام این ولایت، با تأکید بر مسئولیت‌پذیری و خدمت صادقانه به مردم، اطمینان داد که این پروژه در زمان تعیین‌شده تکمیل خواهد شد و مقام ولایت در تمام مراحل آن همکاری خواهد کرد.

قابل تذکر است که این پروژه با هماهنگی وزارت صحت عامه و با حمایت مالی دفتر UNHCR به هزینه مجموعی 773٬250 دالر امریکایی تطبیق می‌گردد

## Foundation Stone Laid for Construction of a General Hospital in Band Mazar Area of Pato District, Daikundi Province

The ceremony was attended by the Deputy Governor, the Provincial Director of Public Health, representatives of various government departments, the District Governor of Pato, religious scholars, community leaders, and residents of the area.

The Director of Public Health of Daikundi Province, Dr. Jawad Hakimi, stated: "This hospital will be constructed as a fully equipped standard complex to meet the healthcare needs of remote and mountainous areas.

The Deputy Governor of the province, Mawlawi Ehsanullah Rahmatyar, emphasized honesty and accountability in service provision and assured that the project will be completed within the stipulated timeframe, with full support from the Governor's Office at all stages.






## د عامې روغتیا وزارت د خوړو او درملو مرستیال، ښاغلي مولوي حمدالله زاهد د دې معینیت له تخنیکي ټیم سره یو ځای د هېواد د درملو او طبي تجهیزاتو د واردوونکو اتحادیې له مسؤلینو او غړو سره لیدنه ترسره کړه

په دې لیدنه کې د خوړو او درملو معینیت رهبرۍ د ګډونوالو ستونزې، نظرونه او وړاندیزونه واورېدل او ډاډ یې ورکړ، چې د شریکو شویو ستونزو هر اړخیزې ارزونې او حل لپاره به لازم اقدامات ترسره شي.
همدارنګه، په دې لیدنه کې له سوداګرو وغوښتل شول چې ژر تر ژره له هغو نویو او معتبرو شرکتونو سره چې په ګاونډیو او د سیمې په هېوادونو کې شتون لري او غوره کیفیت او مناسب قیمت ولري، هوکړه وکړي او د هېواد اړین درمل وارد کړي، تر څو په راتلونکې کې د هېواد بازار د درملو له کمښت سره مخ نه شي.
ښاغلي مرستیال ټینګار وکړ، له هغو شرکتونو او کسانو سره به قانوني چلند وشي، چې د درملو احتکار وکړي او یا د بېلابېلو پلمو له لارې د بیو د ناقانونه لوړېدو سبب شي.
د یادونې وړ ده، چې د عامې روغتیا وزارت رهبري، په ځانګړې ډول د خوړو او درملو معینیت په منظم او دوامدار ډول د درملو له سوداګرو سره په اړیکه کې دی، څو د هېوادوالو د درملو اړتیاوې پوره، د دې سکتور د سوداګرو ستونزې وڅېړل شي او په لنډ وخت کې حل شي.

## دیدار محترم معین غذا و ادویه با مسئولان اتحادیه تورید ادویه و تجهیزات طبی

## محترم مولوی حمدالله زاهد معین غذا و ادویه وزارت صحت عامه ا.ا.ا، همراه با تیم تخنیکی این معینیت با مسئولان و اعضای اتحادیه تورید ادویه و تجهیزات طبی کشور دیدار و گفتگو کرد

در این دیدار، رهبری معینیت غذا و ادویه مشکلات، دیدگاه‌ها و پیشنهادهای اشتراک‌کننده گان را استماع نموده و اطمینان داد که برای رسیده گی همه‌جانبه به نگرانی‌های مطرح‌شده اقدامات لازموی دست گرفته خواهد شد.
همچنان از تاجران خواسته شد تا در اسرع وقت با شرکت‌های معتبر جدید از کشورهای همسایه و منطقه که دارای کیفیت بهتر و قیمت مناسب‌تر باشند، تفاهم نموده و ادویه مورد نیاز کشور را وارد نمایند تا در آینده بازار دوا با کمبود اقلام دوایی مواجه نگردد.
محترم معین غذا و ادویه، همچنان هشدار داد که با شرکت‌ها یا افرادی که اقدام به احتکار ادویه نموده یا به بهانه‌های مختلف سبب افزایش غیرقانونی قیمت‌ها گردند، برخورد قانونی صورت خواهد گرفت.
قابل ذکر است که رهبری وزارت صحت عامه، به‌ویژه معینیت غذا و ادویه، به‌صورت منظم و دوامدار با تاجران ادویه در ارتباط بوده تا نیازهای دوایی هموطنان به‌موقع تأمین و مشکلات تاجران این سکتور نیز در اسرع وقت بررسی و حل گردد.

**Deputy Minister for Food and Drugs of the MoPH Mawlawi Hamdullah Zahid, with his technical team, met officials and members of the Pharmaceutical and Medical Equipment Importers' Union.**

The leadership of the Deputy Minister's Office for Food and Drugs heard participants' issues, opinions, and suggestions, and assured that necessary measures would be taken to thoroughly assess and address the raised concerns.
Traders were also asked to promptly make agreements with new and reputable companies in neighboring and regional countries that offer high-quality products at reasonable prices, and to import the country's essential medicines, so that the domestic market does not face shortages in the future.
The Deputy Minister emphasized that legal action will be taken against companies or individuals who hoard medicines or illegally inflate prices through various pretexts.
The Ministry of Public Health, especially the Deputy Minister's Office for Food and Drugs, maintains regular contact with pharmaceutical traders to meet medicine needs and promptly address their issues.






## د عامې روغتيا وزارت له لوري د اکمال تخصص برنامې د 1404 هـ ش کال اړوند نږدې 500 تنو متخصصو ډاکټرانو فراغت غونډه تر سره او ټولنې ته د خدمت په موخه وړاندې شول

په همدې موخه جوړه شوې غونډه کې د عامې روغتيا وزير ښاغلي مولوي نور جلال جلالي، د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزير ښاغلي حمدالله نعماني، د کورنيو چارو وزارت د پلان او پالیسۍ مرستيال ښاغلي نورالحق مخدوم، د ازموينو ملي ادارې لوی رئيس ښاغلي شيخ عبدالباقي حقاني، د عامې روغتيا وزارت مرستيالانو او مرکزي رئيسانو، د بېلا بېلو امارتي ادارو او د نړيوالو همکارو سازمانونو او رسنيو استازو ګډون کړی و.

ښاغلي مولوي نور جلال جلالي د 1404 هـ ش کال متخصصو ډاکټرانو د فراغت په مراسمو کې ګډون د وياړ او خوښۍ لامل وباله او د اکمال تخصص له پروګرام څخه يې هغوی ته د فراغت مبارکي ووېله.

ښاغلي وزير ټينګار وکړ، چې د فارغو شويو کسانو پر اوږو د مسؤليت لوی بار دی او بايد په بشپړې ژمنتيا، اخلاص او نېکو اخلاقو سره د خلکو د خدمت او ريښتينو روغتيايي خدمتونو وړاندې کولو هڅه وکړي.

همداراز، د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزير، ښاغلي مولوي حمدالله نعماني دغه علمي غونډه د شکر ځای وباله او ټولنې ته د علمي کادرونو معرفي کول يې افغاني ټولنې ته د خدمت په موخه مهم ياد کړل. هغه ټينګار وکړ، ډاکټران دې خپل مسؤليت په اخلاص، ژمنتيا او له ناروغانو سره د ښه چلند له لارې اداء کړي او په زغم او ډاډ سره دې خدمت ترسره کړي.

دغه راز، د ازموينو ملي ادارې لوی رئيس، ښاغلي شيخ عبدالباقي حقاني فارغانو ته مبارکي ووېله او زياته يې کړه، چې د ناروغيو د مخنيوي په موخه بايد د عامه پوهاوي پروګرامونه زيات او وقايوي خدمتونه نور هم پراخ او پياوړي شي.

سربېره پر دې د عامې روغتيا وزارت د مالي او اداري چارو مرستيال، ښاغلي قاري عبدالولي صديقي متخصصو ډاکټرانو ته د مبارکۍ ترڅنګ د هغوی د لا زياتو برياوو هيله څرګنده کړه. هغه پر مسلکي ژمنتيا، مسؤليت منلو او خلکو ته پر ريښتيني خدمت ټينګار وکړ او سپارښتنه يې وکړه چې فارغ شوي کسان دې خپلو فوق تخصص زده کړو ته هم دوام ورکړي.

د دې غونډې په دوام د عامې روغتيا وزارت د اکمال تخصص لوی رئيس، ډاکټر نثار احمد نيازی هم د 1404 هـ ش کال متخصصينو ته د فراغت مبارکي ووېله او له هغوی يې وغوښتل، چې خپل علمي او مسلکي پرمختګ ته دوام ورکړي. هغه ټينګار وکړ، د اکمال تخصص لوی رياست هڅه کوي چې خپل پروګرامونه معياري او بډايه کړي، څو هېوادوال وکولای شي په کور دننه مناسبو روغتيايي خدمتونو ته لاسرسی ولري.

همدارنګه، د عامې روغتيا وزارت د مقام د دفتر لوی رئيس، الحاج شيخ محمد طاهر حليم او د اکمال تخصص لوی رياست تېرينر ډاکټر ايمل وردګ هم فارغو شويو متخصصينو ته د مبارکۍ ترڅنګ هر اړخيزې ويناوې وکړې.





## بادغیس ولایت کې د ټولنې روغتیايي ناظرینوCHSلپاره درې ورځنۍ روزنیز پروګرام په بریالیتوب سره پای ته ورسېد

دغه پروګرام د عامې روغتیا ریاست له لوري تنظیم شوی و، چې موخه یې د روغتیایي ناظرینو د مسلکي وړتیاوو لوړول او د ټولنې په کچه د روغتیایي خدمتونو کیفیت ښه کول دي.

د دې درې ورځو په ترڅ کې ګډونوالو ته د مهمو موضوعاتو لکه: د روغتیایي رضاکارانو د نظارت په برخه کېCHS رول او مسؤلیتونو، د روغتیایي پوستو د فعالیتونو ارزونې طریقو، د راپور ورکولو سیستم او د معیاري چک‌لېستونو کارولو، د ټولنې په کچه د روغتیایي ستونزو پېژندنې او پر وخت راجع کولو، د ټولنې روغتیایي رضاکارانو او اساسي روغتیایي مرکزونو ترمنځ د همغږۍ پیاوړتیا برخو کې زده کړې ورکړل شوې.

## یک برنامه آموزشی که برای ناظرین صحی جامعه (CHS) های ولایت بادغیس برای سه روز دایر گردیده بود، با موفقیت به پایان رسید

این برنامه که از طریق ریاست صحت‌عامه ولایت بادغیس برگزار گردیده بود، هدف اساسی آن ارتقاء ظرفیت مسلکی ناظرین صحی، تقویت سیستم نظارت و بهبود کیفیت عرضه خدمات صحی در سطح جامعه می‌باشد.

در جریان این سه روز، موضوعات مهمی از جمله: نقش و مسئولیت های CHS ها در نظارت از رضاکاران صحی، روش ارزیابی فعالیت های پوسته‌های صحی، سیستم راپوردهی و استفاده از چک‌لیست های معیاری، شناسایی مشکلات صحی در سطح جامعه و ارجاع به موقع، تقویت هماهنگی میان جامعه، رضاکاران صحی و مراکز صحی اساسی به‌گونه مفصل مورد بحث و آموزش قرار گرفت.

## Three-Day Training for Community Health Supervisors (CHS) in Badghis Province Concludes Successfully

The program, organized by the Public Health Directorate of Badghis Province, aimed to enhance the professional capacity of health supervisors, strengthen the monitoring system, and improve the quality of community health service delivery.

During the three-day program, key topics were covered, including CHSs' roles in supervising health volunteers, evaluating health post activities, using standard reporting checklists, identifying community health issues and timely referrals, and improving coordination between communities, volunteers, and primary health care centers.











## د سمنګان ولایت عامې روغتیا ریاست سره د 11 قلمه روغتیايي کیټونه مرسته وشوه

دغه مرسته، چې ارزښت يې له 8000 امریکايي ډالرو څخه زیات دی، د روغتیا نړیوال سازمان له لوري د سمنګان ولایتي روغتون کې د روغتیايي خدمتونو پیاوړتیا په موخه د یاد ولایت عامې روغتیا ریاست سره وشوه؛ چې په کې بېړني کیټونه، ټراما کیټونه او د نومونیا کیټونه شامل دي.

د سمنګان عامې روغتیا ریاست مسؤلینو د روغتیا نړیوال سازمان له دوامداره همکاریو څخه مننه وکړه او ویې ویل، چې دا مرستې به د بېړنیو خدمتونو د کیفیت په ښه والي او د ناروغانو په درملنه کې مهم رول ولري او د دغو مرستو پر شفاف او اغېزمن استعمال يې ټینګار وکړ.

## قلم کیت صحی به ریاست صحت‌عامه ولایت 11 سمنگان کمک شد

به‌منظور تقویت عرضه خدمات صحی، در شفاخانه ولایتی سمنگان، به تعداد 11 قلم کیت صحی شامل کیت‌های ایمرجنسی، تراماکیت و کیت نومونیا، به ارزش بیش از 8000 دالر امریکایی، از سوی سازمان صحی جهان به ریاست صحت عامه ولایت سمنگان کمک گردید.

مسوولان ریاست صحت‌عامه سمنگان ضمن قدردانی از همکاری‌های دوامدار سازمان جهانی صحت، این کمک‌ها را در بهبود کیفیت خدمات عاجل و تداوی بیماران مؤثر دانسته و بر استفاده شفاف و مؤثر از آن تأکید نمودند.

## 11 Health Kits Donated to Samangan Public Health Directorate

This assistance, valued at over $8,000, was provided by the World Health Organization (WHO) to the Samangan Provincial Public Health Directorate to strengthen health services at Provincial Hospital. It includes emergency kits, trauma kits, and pneumonia kits.

Samangan Public Health officials thanked the WHO for its support, saying the aid will boost emergency services and patient care, and stressed its transparent and effective use.



## د کابل ښار په بېلا بېلو ناحیو کې د کیفیت ښه والي په موخه له یو شمېر درملیزو او غذایي تأسیساتو څخه نظارت ترسره شو

د عامې روغتیا وزارت د خوړو او درملو معینیت د څارنې او پلټنې ریاست نظارتي ټیم د کابل ښار بېلا بېلو ناحیو کې له 23 بابه درملیزو او غذایي تأسیساتو څخه نظارت ترسره کړ، چې پایله کې يې څلور درملتونونه د خپل‌سرې فعالیت او یو امارتي درملتون په لوړو بیو د درملو پلور له امله وتړل شول.

همدارنګه 12 قلمه مشکوک خوراکي توکي د نمونې اخیستلو او د کیفیت تثبیت په موخه لابراتوار ته ولېږدول شول





## د بادغیس ولایتي روغتون سره د یو شمېر مهمو طبي او غیر طبي وسایلو مرسته وشوه

دا مرسته د یونیسف اداري له لوري د بادغیس ولایتي روغتون سره د روغتیايي خدمتونو پیاوړتیا په موخه وشوه او اړوندو مسؤلینو ته وسپارل شوه.

په یادو وسایلو کې د څه باندې 70٬000 امریکایي ډالرو په ارزښت یو اکسری X-Ray ماشین، عاجل کیټونه، د ناروغانو د انتقال تختونه، ویلچرونه، د جراحي مېز او یو عصري اوتوکلیف ماشین شامل و، چې د بادغیس ولایتي روغتون مسؤلینو ته وسپارل شول

د بادغیس د عامې روغتیا ریاست مسؤلینو وویل، دغه تجهیزات به د تشخیص او درملنې خدمتونو کیفیت ښه کړي، د ناروغانو د بیا رجوع کچه به راکمه کړي او هم به د انتاناتو کنټرول پیاوړی کړي. همدارنګه، هغوی د یونیسف اداري له همکارۍ څخه مننه وکړه.

## یک تعداد از تجهیزات مهم طبی و غیرطبی به شفاخانه ولایتی بادغیس کمک شد

به‌منظور تقویت خدمات صحی در شفاخانه ولایتی بادغیس، یک تعداد از تجهیزات مهم طبی و غیرطبی از سوی اداره یونیسف کمک و در محفل رسمی به مسوولان ریاست صحت‌عامه این ولایت تحویل داده شد.

این مراسم با حضور ملا خان محمد همت رئیس صحت عامه ولایت بادغیس و مسوولان مربوطه برگزار شد. در جمع این وسایل، یک پایه ماشین اکسری (X-Ray) به ارزش بیش از 70’000 دالر امریکایی، کیت‌های عاجل، تخت‌های انتقال مریضان، ویلچرها، میز جراحی و یک پایه ماشین مدرن اوتوکلیف شامل بود که به شفاخانه ولایتی بادغیس تسلیم داده شد.

مسوولان ریاست صحت عامه این تجهیزات را در بهبود کیفیت خدمات تشخیصیه و تداوی، کاهش رجعت و تقویت کنترول انتانات مؤثر دانسته و از همکاری اداره یونیسف ابراز قدردانی نمودند.

## Key Medical and Non-Medical Equipment Provided to Badghis Provincial Hospital

This support was provided by UNICEF to strengthen health services at Badghis Provincial Hospital and was handed over to the relevant authorities.

Items worth over $70,000—including an X-ray machine, emergency kits, patient stretchers, wheelchairs, a surgical table, and a modern autoclave—were handed over to Badghis Provincial Hospital officials.

Badghis Provincial Public Health officials thanked UNICEF for its support, stating that the supplies will enhance diagnostic and treatment services, lower patient readmissions, and strengthen infection control.

 

## د کتلوي معافیت ملي پروګرام عمومي مسؤل، ډاکټر عبدالحکیم همت د 1404 کال د دریېمې ربعې د فعالیتونو ارزونې او بیاکتنې په موخه د روغتیا نړیوال سازمان، یونیسف او د روغتیايي خدمتونو وړاندې کوونکو BPHS همکارو بنسټونو له استازو سره ناسته ترسره کړه

په دې ناسته کې د هېواد په 34 ولایتونو کې د واکسیناسیون فعالیتونه او په 7 زونونو کې د تطبیق کوونکو مؤسسو اجراآت په هر اړخیز ډول وارزول شول. همدارنګه، د اجراآتو مهم شاخصونه، د ټاکل شویو موخو د تحقق کچه، د خدماتو کیفیت، ورته عادلانه لاسرسی او د واکسیناسیون عمومي پوښښ په دقیق ډول وڅېړل شول.

همداراز، د شریکانو ترمنځ د همغږۍ پر ښه والي، د راپور ورکولو سیستم پر پیاوړتیا، په پرېکړو کولو کې د معلوماتو پر اغېزمن استعمال، د ننګونو پر حل او د خدماتو د کیفیت او دوام پر تضمین ټینګار وشو.

د ناستې په پای کې ګډونوالو د دې پروګرام د لا پیاوړتیا او په ټول هېواد کې د واکسیناسیون خدمتونو د دوامداره ښه والي لپاره خپله ژمنتیا څرګنده کړه.

## داکتر عبدالحکیم همت، مسئول عمومی برنامه ملی معافیت کتلوی، نشست بررسی و ارزیابی فعالیت های ربع سوم سال 1404 برنامه ملی معافیت کتلوی را با نماینده‌گان سازمان صحی جهان، یونیسف و نهادهای همکار ارائه‌کننده خدمات صحی BPHS برگزار کرد

در این نشست، فعالیت‌های واکسیناسیون در 34 ولایت کشور و اجراآت مؤسسات تطبیق‌کننده در زون‌های هفت‌گانه مورد بحث و ارزیابی همه‌جانبه قرار گرفت. شاخص‌های کلیدی اجراآت، میزان تحقق اهداف تعیین‌شده، کیفیت خدمات، دسترسی عادلانه و پوشش سراسری واکسیناسیون به‌گونه دقیق بررسی شد

همچنان، بر بهبود هماهنگی میان شرکا، تقویت سیستم گزارش دهی، استفاده مؤثر از معلومات در تصمیم‌گیری، رسیده‌گی به چالش‌ها و تضمین کیفیت و پایداری خدمات تأکید گردید.

در پایان این نشست، اشتراک‌کننده‌گان تعهد خویش را برای تقویت بیشتر برنامه و بهبود مستمر عرضه خدمات واکسیناسیون در سراسر کشور ابراز نمودند.

**Dr. Abdul Hakim Hemat, Head of the National Expanded Program on Immunization, held a meeting to review and evaluate the third-quarter activities of the 1404 NEPI with representatives of the WHO, UNICEF, and partner institutions providing Basic Package of Health Services (BPHS).**

During the meeting, vaccination activities in all 34 provinces and the performance of implementing organizations across the seven zones were reviewed. Key indicators, target achievement, service quality, equitable access, and nationwide coverage were also assessed.

Emphasis was also placed on strengthening coordination among partners, enhancing reporting systems, promoting the effective use of data for decision-making, addressing existing challenges, and ensuring the quality and sustainability of services.

Concluding the meeting, participants reaffirmed their commitment to strengthening the program and improving immunization services nationwide.







## د کابل ښار په یوولسمه او دوه ویشتمه ناحیه کې د درملو له 44 تاسیساتو څخه نظارت ترسره شو

د عامې روغتیا وزارت د درملو، روغتیايي محصولاتو او خوراکي توکو د څارنې او ارزونې مسؤلینو د بیو کنټرول، احتکار او انحصار مخنیوي، د کیفیت تأمین او د روغتیايي قوانینو پلي کېدو په موخه د کابل ښار په یوولسمه او دوه ویشتمه ناحیه کې د درملو له 44 تاسیساتو څخه نظارت ترسره کړ.

د یاد نظارت په پایله کې د درملو 8 شرکتونه او 25 درملتونونه د لوړ قیمت پلور، 11 درملتونونه د خپل سري فعالیت او رسمي جواز نه لرلو او یو د درملو عمده پلورنځی د لوړې بیې پلور له امله وتړل شول.

د عامې روغتیا وزارت د درملو، روغتیايي محصولاتو او خوراکي توکو د څارنې او ارزونې مسؤلین ټینګار کوي، چې د خلکو د روغتیا خوندیتوب په موخه به د درملو د بازار څارنه په جدي ډول دوام ولري او له سرغړوونکو سره به قانوني چلند ترسره کېږي.

## از 44 تأسیسات ادویه، در ناحیه‌های یازدهم و بیست ودوم شهر کابل نظارت صورت گرفت

مسئولان نظارت و ارزیابی ادویه، محصولات صحی و مواد غذایی وزارت صحت‌عامه، به‌منظور کنترول قیمت‌ها، جلوگیری از احتکار و انحصار، تأمین کیفیت و تطبیق قوانین صحی، از 44 تأسیسات دوا در ناحیه‌های یازدهم و بیست‌ودوم شهر کابل نظارت نمودند.

در نتیجه این نظارت، 8 شرکت ادویه و 25 دواخانه به دلیل فروش به قیمت بلند، 11 دواخانه به دلیل فعالیت خودسرانه و نداشتن جواز رسمی، و یک عمده‌فروشی ادویه به علت فروش به قیمت بلند مسدود گردیدند.

مسئولان نظارت و ارزیابی ادویه، محصولات صحی و مواد غذایی وزارت صحت‌عامه تأکید می‌کنند که به‌منظور حفاظت از صحت مردم، نظارت از بازار دوا به‌گونه جدی ادامه خواهد یافت و با متخلفان برخورد قانونی صورت می‌گیرد.

## 44 Pharmaceutical Establishments Inspected in Kabul's 11th and 22nd Districts

Officials from the Ministry of Public Health for the Inspection of Medicines, Health Products, and Food carried out the inspections to control prices, prevent hoarding and monopoly, ensure quality, and enforce health regulations.

As a result of the inspections, 8 pharmaceutical companies and 25 pharmacies were closed for overpricing, 11 pharmacies were shut for operating without authorization and lacking official licenses, and one wholesale medicine store was closed for selling at excessively high prices.

The Ministry of Public Health calls on all pharmacy operators to comply with health laws and continue their activities in accordance with applicable regulations.